# خپله ژبه

ماسټر کريم

د مورنۍ ژبې اهميت يوه داسې موضوع ده چې نۀ زړېږي او نۀ پرې بنده مړېږي او بيا هغه قوم چا چې لا د خپلې ژبې حق ادا کړے نۀ وي د هغوي د پاره خو نوے هم وي او ضروري هم. په دې غرض مونږ د ماسټر کريم صاحب دا ليک خپلو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوو چې هغوي په دې زړه هنداره کښې د خپل نن ننداره وکړي.

(له جناب عبدالکريم خانصاحب هېډ ماسټر ازاد سکول اُتمانزي)

هر څوک د خپلې ژبې پت لري
ورسره مينه محبت لري
په دې کښې خط او کتابت لري
پکښې علمونه لياقت لري
په پښتنو باندې ده خپله ژبه ګرانه،
نۀ ئې ليکونه شته

(مخفي)

د ډېرو ورځو نه به مې فکر کوو چې ولې دې پښتو ژبه ترقي ونۀ کړي خو هر کله چې د پښتون قام نورو کارونو سمون ونۀ خوړ نو يواځې ژبه به څۀ رنګ ګويانه شوې وه. دا معلومه خبره ده چې هر کله د سړي وجود کښې مرض وي نو د هغۀ لاس پښې، د هغۀ زړۀ او دماغ ټول سره بېکاره شي، دغه رنګ چې يو قوم پرېوځي، نو د هغۀ افراد بېکاره شي، ژبه ئې هم تته شي او اواز ئې څوک نۀ اوري، سره د دې چې په کور کښې شپې او ورځې اړوي خو خلقو داسې هېر کړے وي چې په هېره هم د چا په ياد کښې نۀ راځي. ډېره موده کېږي چې پښتون قوم د غلامۍ په لوئے رنځ اخته دے، دارو دُرمل خو پرېږده تر اوسه پورې چا دا مرض پېژندلے نۀ شو، ويره وه چې دا ګل په اول پسرلي کښې ورژېږي او دا د بدخشان لال د کُنجکو په بيعه خرڅ شي خو د خدائے او د بنده اراده يوه نۀ وي، اخر د خدائے رحمت په جوش کښې راغے او په دې قوم کښې احساس پېدا شۀ.

د کال 14 19 لوئے جنګ د ډېرو خلقو سترګې رڼا کړې، هر چا سره د ځان غم شۀ. پښتون هم ځان وځنډۀ او ډېر زر ئې دنيا ته ښکاره کړه چې دا ځنګل د زمرو نه خالي نه ؤ، پښتو ژبه هم وګرځېده او لږه موده کېږي چې د کابل په تخت ئې قبضه وکړه، خو حقيقت دا دے کۀ چرې مونږ د نورو قومونو سره خپل ځان په تله کښې واچوو نو دا به راته د نمر په شان ښکاره شي چې لکه څۀ رنګ په نورو ډېرو خبرو کښې مونږ د هغوي نه وروستو يُو دغه رنګ زمونږ ژبه هم لا الف، ب، ت، ث وائي. مونږ لا په سبر کښې پونۍ هم نۀ ده رښلې، خو د دې دا مطلب نۀ دے چې زمونږ په ژبه کښې د هغوي د ژبو

په شان وسعت نشته. هره ژبه په اول کښې لنډه تنګه ښکاري. د هندوستان اُردو ژبه هم دغه رنګ وه، زمونږ ژبه دومره خواره نۀ ده چې په یوه ژبه کښې د ملک الشعراء خوشحال خان خټک دیوان موجود وي، کاظم خان شیدا، عبدالحمید او د عبدالرحمان صیب غوندې میراث پښتون قوم ته پاتې شوے وي نو بیا د خپلې ژبې نه خفه کېدل پکار نۀ دي. د عبدالاکبر خان د عمرزو، د مخفي صیب فضل محمود، د چارسدې او د بدربشو د سمندر خان د اشعارو لوستو نه پس خو پکار دي چې دا شک هر سړے د زړۀ نه لرې کړي خو دا کۀ زمونږه ژبه تر اوسه پورې نۀ چلېده نو د هغې وجه دا ده چې زمونږ ناسته، پاسته، زمونږ خوراک، څښاک او زمونږ مرګ او ژوندون د بل په اختیار کښې ؤ، مونږ باندې د هغې کارغۀ ټوقه شوې وه چې د ښارو تلۀ ئې زده کول نو د ښارو تلۀ ئې خو زده نۀ کړۀ خو هغه خپل ترې هېر شول، ډېر ورونړه زمونږ داسې شته دي چې د پښتو لیکل او لوستل ورله نۀ ورځي او چې پښتو کښې خبرې کوي نو عام خلق پرې نۀ پوهېږي. زمونږ د علماؤ صاحبانو په وعظ څوک نۀ پوهېږي، ځکه چې هغوي د نیمې نه زیاته عربي او فارسي ټکي وائي. زمونږ د سکول او کالج د ورونړو په اوږو او څټ خو جان بُل ناست دے، هغوي ته په پښتو لیکلو ځان بدې ښکاري، دغه وجه ده چې نن عوام زمونږ د تعلیم یافتۀ او علماؤ صاحبانو نه دومره لرې دي لکه پېښور چې د چترال نه لرې دے.

عوام خواران خو پرېږده، خپل تعلیم یافته خلق چې ځان ته پوهه وائي، د هغوي حالت وګورئ او بیا د ځان نه دا تپوس وکړئ چې زمونږ ځلمي چې لس لس کاله او څوارلس څوارلس کاله په سکولونو او کالجونو کښې عمر تېر کړي او په زرګونو هغه پېسې چې پلارانو ئې په چل هنر او په تکلیف جمع کړې وي، خرڅ کړي، هغوي هغه هومره زدکړه کړې وي لکه څۀ رنګ چې د یو انګرېز بچي په دومره عمر کښې کړې وي نو کۀ څوک سترګې نۀ پټوي نو ضرور به دا ووائي چې نا هیڅرې نۀ دا ولې؟دا د چا قصور دے؟

دا د کارغۀ او د ښارو قصه ده، زمونږ هلکان به جغرافیه زده کړي او کۀ انګرېزي؟ زمونږ هلکان حساب زده کړي او کۀ انګرېزي، زمونږ هلکان تاریخ، فلسفه، سائنس یا د سائنس تجربې وکړي او کۀ په انګرېزۍ ځان پوهه کړي، دغه وجه ده چې د هغوي ډاکټران داروګان جوړوي او زمونږ هغه ئې خرڅوي، د هغوي وکیلان قانون جوړوي او زمونږ هغه پرې سر خُوږوي، د هغوي ممبران وړاندې ځي او مونږ ورپسې منډې وهو، د هغوي یو نه وي او یو اؤ وي او مونږ ځان ځان له پلاران یُو، د هغوي خپل مینځ کښې محبت او بل سره ډزې وي، زمونږ د بل سره محبت او خپل مینځ کښې ډزې وي.

دا قاعده ده چې هر کله یو حاکم قام په محکوم قوم د ډېرې مودې پورې خپل اقتدار ساتل وغواړي نو خپل رسم و رواج پکښې جاري کړي او دا رسم و رواج لکه چې څومره زر د ژبې په ذریعه خورېږي

هغه هومره په بل څۀ نۀ خوربږي، ځکه چې د هرې ژبې ځان ځان له رسم و رواج وي، دا لازمي خبره ده چې څوک انګرېزي وائي نو د قالين په ځائے به په مېز کُرسۍ ناسته خوښوي او چې فارسي عربي وائي نو د کټ په ځائے به په فرش، کۀ هغه د وښو وي او کۀ د قالين او چې لس دولس کاله يو سړے په مخه انګرېزي ولولي نو د هغۀ نه د صاحب کشر ورور جوړ شوے وي. په هندوستان کښې په مونږ هم دغه ټوقه شوې ده، بل لا مونږ له حاکم څومره په حکومت کښې حصه هم راکړې ده او بيا دغه دام ئې راته د ابادۍ په حساب خور کړے دے، دغه وجه ده چې خپله ژبه مو پرېښې ده او په پردۍ ژبه عمر ضائع کوو.

دا يوه د خوشحالۍ خبره ده چې کانګرس سره د نورو ډېرو خبرو د ژبې په باره کښې هم ډېره ښه فېصله وکړه چې د هرې صوبې دې خپله ژبه وي او مشترکه ژبه دې داسې هندوستاني وي چې نۀ پکښې سنسکرت وي او نۀ عربي فارسي، هر هوښيار سړے به په دې خوشحاله وي.

خو ډېره د خوشحالۍ خبره دا ده چې د فخر افغان صاحب په سر پرستۍ کښې زمونږ خپله ژبه بيا خبرو ته ځان جوړوي، د "پښتون" راتلل او په صوبه کښې پرائمري تعليم په خپله ژبه کښې جاري کېدل، دا هغه دوه لوئے احسانه دي چې پښتون قوم به تر قيامته پورې فخر افغان صاحب هېر نۀ کړي. قومي وزارت هم د ډېر اخلاص نه کار اخستے دے، کۀ د دوي امداد نۀ وي نو دا دواړه کاره او خاص کر په خپله ژبه کښې تعليم خو هيچرې سر ته نۀ شي رسېدے، کۀ د قوم خپلې ژبې سره مينه وي او دا غواړي چې قوم دې پوهه شي نو ضرور به د دې مدد وکړي.

(پنځلس ورځنے "پښتون" **5** اپرېل **1938**ء)